# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

نیمروز
د پایلې لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په نیمروز ولایت کې ښوونیزې ودانۍ ډېرې محدودې دي او دا په داسې حال کې ده چې په دې برخه کې اړتیاوې ډېرې زیاتې دي. ډېری ماشومان د دې انجونو او هلکانو په څېر دي چې دوی په چخانسور ولسوالۍ کې یو ځای سره په آزاده فضا کې سبق وایي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هېواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۵** ولسوالۍ وارزول شوې
**۲۸۷** کلي وارزول شول

**۲،۰۳۳**
کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳۹،۶۴۳**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۷۲،۸۰۸**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۷،۳۴۴**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۱،۴۶۲**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۸**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۰,۱٪)

**۹۷**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۱**
د ټولو کلیدي معلومات ورکوونکو له ډلې ۲۳٪ یې ښځینه ول – نیمروز ولایت د هېواد په کچه د ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو تر ټولو لوړ شمېر لري

**۵ څخه ۲**
کسان په نیمروز ولایت کې یا داخلي بېځایه شوي دي او هم راستنېدونکي (۳۹٪)

**۳ څخه ۲**
۶۶٪ راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په زرنج ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۴ څخه ۱**
کورنۍ په زرنج ولسوالۍ کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۴۳،۲۹۵**
کسان په نیمروز ولایت د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۱،۸۷۲**
کسان په خاشرود ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۱،۸۹۳**
کسان په زرنج ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زرنج | ۶۲,۶۹۸ | ۷۳,۸۷۷ | ٪۵۴ | ۲۵,۹۹۸ | ٪۱۹ | ۲,۵۰۴ | ٪۴ | ۴۷,۸۷۹ | ٪۳۵ | ۶,۱۸۹ | ٪۱۰ | ۱۰,۹۵۶ | ٪۱۷ |
| کنګ | ۲۴,۵۰۷ | ۶,۲۲۹ | ٪۲۰ | ۳,۵۸۴ | ٪۱۲ | ۱,۳۱۵ | ٪۵ | ۲,۶۴۵ | ٪۹ | ۱,۹۵۵ | ٪۸ | ۳,۷۱۰ | ٪۱۵ |
| چاربرجک | ۲۸,۸۷۲ | ۴,۱۹۲ | ٪۱۳ | ۲,۲۶۳ | ٪۷ | ۴۸۸ | ٪۲ | ۱,۹۲۹ | ٪۶ | ۱,۸۷۶ | ٪۶ | ۲,۵۰۴ | ٪۹ |
| چخانسور | ۲۵,۹۱۹ | ۵,۹۷۸ | ٪۱۹ | ۴,۰۰۴ | ٪۱۳ | ۱,۵۰۰ | ٪۶ | ۱,۹۷۴ | ٪۶ | ۳,۵۶۹ | ٪۱۴ | ۱,۹۵۸ | ٪۸ |
| خاشرود | ۳۴,۹۰۲ | ۲۲,۱۷۵ | ٪۳۹ | ۳,۷۹۴ | ٪۷ | ۷,۲۸۶ | ٪۲۱ | ۱۸,۳۸۱ | ٪۳۲ | ۳,۷۵۵ | ٪۱۱ | ۲,۳۳۴ | ٪۷ |
| مجموعه | ۱۷۶,۸۹۸ | ۱۱۲,۴۵۱ | ٪۳۹ | ۳۹,۶۴۳ | ٪۱۴ | ۱۳,۰۹۳ | ٪۷ | ۷۲,۸۰۸ | ٪۲۵ | ۱۷,۳۴۴ | ٪۱۰ | ۲۱,۴۶۲ | ٪۱۲ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي ادارې *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



د DTM ټیم دا تحلیل کړی چې د معیشت تر څنګ اوبه، حفظ الصحه او روغتیا ته په زرنج ولسوالۍ کې تر ټولو ډېره اړتیا لیدل کېږي. لکه څرنګه چې په انځور کې ښکاري پټیو ته اوبه لږول شوي خو همدا نا خوندي اوبه بېرته په یوې نږدې ځاه کې جذب کېږي چې بیا د دې سیمې د وګړو له لوري د څښاک اوبو په توګه ترې ګټه اخیستل کېږي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کاروونکو په توګه په کار ګماري. دا کاروونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کاروونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټلیفونونه یا ټابلېټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لورې تری کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې د DTM د لومړني ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالی په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او تللیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي دي. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د ځو سکتورېزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په نیمروز ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۲۳٪ یې ښځې دي چې دا د شمېر د هېواد د کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر (۴٪) په پرتله لوی پرمختګ ښیي.

**۲،۰۳۳**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۷۰**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنېدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۸٪)

**۴۶۱**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۳٪)

**۱،۰۱۳**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۵۰٪)


**۱،۵۷۲**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۷۷٪)

**۱۸۶**
څو سکتوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹٪)


**۷،۱**
په هره ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۵۵۵**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | نیمروز




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | نیمروز



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږ ترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شوي سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو سره ثبت وو او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه نیمروز ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۵۲٪ کموالی ښیي خو په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۵٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۷۰٪ کموالی ښیي.

**۳۹،۶۴۳**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۳،۰۹۴**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۷،۸٪)


**۳۰،۳۲۵**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۷۷٪)


**۳۶،۵۲۶**
ایران څخه راستنېدونکي (۹۲،۱٪)


**۹،۲۹۵**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۲۳٪)


**۲۳**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۰،۱٪)




# رارسيدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ يا وسله والو جګړو، تاوتريخوالۍ، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او د طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړې شويو پيښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شويو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۷۲،۸۰۸**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان

**۹۰٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۴۷،۸۷۹**
زرنج ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولايت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۰٪**
د طبيعي پيښو له امله بېځايه شوي


**۱۵،۸۲۸**
داخلي بېځايه شوي په غير رسمي سيمو کې مېشت دي (۲۲٪)

**۱۲٪**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي


رارسيدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنۍ بهير | نيمروز





د اصلي ولايت پر بنسټ رارسيدلي داخلي بېځايه شوي کسان | نيمروز





د ولسوالى پر بنسټ رارسيدلي داخلي بېځايه شوي کسان | نيمروز





د ولسوالى پر بنسټ غير رسمي سيمو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان | نيمروز




رارسيدلي داخلي بېځايه شوي کسان | پناه ځای | نيمروز



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)





### ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| زرنج | ۲۵,۹۹۸ | ۴۷,۸۷۹ | ۷۳,۸۷۷ |
| خاشرود | ۳,۷۹۴ | ۱۸,۳۸۱ | ۲۲,۱۷۵ |
| کنګ | ۳,۵۸۴ | ۲,۶۴۵ | ۶,۲۲۹ |
| چخانسور | ۴,۰۰۴ | ۱,۹۷۴ | ۵,۹۷۸ |
| چاربرجک | ۲,۲۶۳ | ۱,۹۲۹ | ۴,۱۹۲ |
| عمومي مجموعه | ۳۹,۶۴۳ | ۷۲,۸۰۸ | ۱۱۲,۴۵۱ |


په عمومي توګه نيمروز ولايت له ټولټال ۱۱۲،۴۵۱ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي چې ۳۵٪ (۳۹،۶۴۳ کسان) راستنېدونکي او ۶۵٪ (۷۲,۸۰۸ کسان) داخلي بېځايه شوي دي. په لاندې جدول کې د نيمروز ولايت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زياتو بېځايه شويو او راستنېدونکو راتګ څخه اغيزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د نيمروز ولايت ۲۸۷ ارزول شويو کليو څخه ۷٪) د ټول ولايت ۴۵٪ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زيانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچينې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زيانمنو کليو څخه ۱۶ کلي يې په زرنج ولسوالۍ کې موقعيت لري او د دې جدول ۸۰٪ (۳۹,۹۴۹) راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي.

### ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | نوراني | زرنج | ۸,۱۷۵ |
| ۲ | سپين کلی | خا شرود | ۴,۳۰۰ |
| ۳ | حيدر آباد | زرنج | ۴,۱۴۰ |
| ۴ | حاجي غفور نروی | زرنج | ۳,۰۳۵ |
| ۵ | حاجی مومن | زرنج | ۲,۹۷۴ |
| ۶ | سلطان ويس | زرنج | ۲,۵۵۱ |
| ۷ | دو راهی | خا شرود | ۲,۴۶۹ |
| ۸ | ګلستان | زرنج | ۲,۳۰۴ |
| ۹ | شګی | خا شرود | ۱,۹۸۷ |
| ۱۰ | خواجه سلطان محمد | زرنج | ۱,۹۰۶ |
| ۱۱ | سستان | زرنج | ۱,۸۸۷ |
| ۱۲ | حاجی ملا باز محمد | زرنج | ۱,۷۹۷ |
| ۱۳ | اختر محمد رخشنی | زرنج | ۱,۷۹۶ |
| ۱۴ | نظام الدين | زرنج | ۱,۷۴۹ |
| ۱۵ | معصوم آباد | زرنج | ۱,۶۹۸ |
| ۱۶ | کلخک | زرنج | ۱,۵۶۴ |
| ۱۷ | حاجي کامران | زرنج | ۱,۵۵۲ |
| ۱۸ | حاجي امان الله عبيدي | زرنج | ۱,۵۰۶ |
| ۱۹ | ګيرو | خا شرود | ۱,۴۴۵ |
| ۲۰ | حاجی حبيب الله ازبک زی | زرنج | ۱,۳۱۵ |
| | | مجموعه | ۵۰,۱۵۰ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

دا هغه افغانان دي چې لـه يـوې ارزول شـوې سـيمې څخـه چې هلته يـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه يـوې بلـې سـيمې ته تللي دي تر څو د وسـله والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندېښـنې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۱۳،۰۹۳**
داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

**۸۲٪**
په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي


**۳۴٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۶۶٪**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي

داخلي بېځايه شوي کسان چې اصلي سيمې يې پرېښي | کلنۍ بهير | نیمروز




د ولسوالی پر بنسټ داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلی سيمې يې پرېښي | نیمروز



د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځايه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوي سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پيښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۱۷،۳۴۴**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۷۸٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۵ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان يوازې ۲ ولسواليو ته راستانه شوي: زرنج، او خاشرود (۵۷٪)


**۳ څخه ۱**
راستون شوی داخلي بېځايه شوي وګړي زرنج ولسوالۍ ته راستون شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | نیمروز




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهیر | نیمروز




د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي.


**۲۱،۴۶۲**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۲۸**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۰,۱٪)


**۲۰،۰۴۴**
ایران ته تللي دي (۹۳٪)


**۱،۲۷۳**
پاکستان ته تللي دي (۶٪)




# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زرنج | ۷۳,۸۷۷ |
| ۲ | خا شرود | ۲۲,۱۷۵ |
| ۳ | کنګ | ۶,۲۲۹ |
| ۴ | چخانسور | ۵,۹۷۸ |
| ۵ | چاربرجک | ۴,۱۹۲ |
| | عمومي مجموعه | ۱۱۲,۴۵۱ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خا شرود | ۷۵ |
| ۲ | چاربرجک | ۱۴ |
| ۳ | زرنج | ۹ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۹۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زرنج | ۴۰,۲۳۹ |
| ۲ | چخانسور | ۱,۹۳۱ |
| ۳ | کنګ | ۹۳۸ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۴۳,۱۰۸ |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیایي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خا شرود | ۱۱,۸۷۲ |
| ۲ | زرنج | ۱۱,۷۷۶ |
| ۳ | چخانسور | ۵,۰۴۱ |
| ۴ | چاربرجک | ۳,۳۹۲ |
| ۵ | کنګ | ۱,۶۹۱ |
| | عمومي مجموعه | ۳۳,۷۷۲ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زرنج | ۱۸,۲۲۶ |
| ۲ | خاشرود | ۴,۴۵۵ |
| ۳ | چخانسور | ۲,۵۳۵ |
| ۴ | چاربرجک | ۱,۹۶۷ |
| ۵ | کنګ | ۱,۰۹۴ |
| | عمومي مجموعه | ۲۸,۲۷۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زرنج | ۱۱,۸۹۳ |
| ۲ | خا شرود | ۷,۷۴۳ |
| ۳ | کنګ | ۶,۰۷۹ |
| ۴ | چاربرجک | ۳,۳۸۶ |
| ۵ | چخانسور | ۳,۰۸۴ |
| | عمومي مجموعه | ۳۲,۱۸۵ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | نیمروز




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### له بلواګرو څخه په تېښته کې

مریم د دوه ماشومانو مور ده چې یو یې هلکه او بله انجلۍ ده. هغه د نیمروز ولایت څخه ده. په ۲۰۱۰ کال کې هغه له خپلو ماشومانو او خاوند سره ایران ته تللې وه تر څو ښه ژوند ولري. دوه کاله وروسته په ایران کې د هغې خاوند به یوې بدې ترافیکي پېښې کې سترګې له نړۍ پټې کړې.

وروسته له دې چې هغې خپل خاوند له لاسه ورکړ په ایران کې ژوند کول د هغې لپاره ډېر ستونزمن شو. له همدې امله هغې پرېکړه وکړه ترڅو بېرته د نیمروز ولایت چخانسور ولسوالۍ کې خپل کور ته ولاړه شي.

هغې خپل کور او نور کور توکي خرڅ کړل ترڅو کور ته د بېرته ستنېدو پیسې پیدا کړي. هغه او د هغې کورنۍ د ۴،۰۰۴ راستنېدونکو له ډلې ول چې له بهرنیو هېوادونو څخه چخانسور ولسوالۍ ته راستانه شوي ول. کله چې هغه خپل کور ته راستانه شوه په لومړیو کې هغې له خپل ورور څخه مرسته ترلاسه کوله. که څه هم د وخت په تېرېدو سره د هغې ورو مالي ستونزو سره مخ شو او کولای یې نشو چې نور مریم سره مرسته وکړي.

هغه دې ته اړ شوه چې خپلو ګاونډیانو ته مخ واړوي او پیسې ترې واخلي ترڅو وکولای شي په هغو پیسو د خپل د ژوندانه اساسي توکي لکه خواړه او کالي وپلوري. که څه هم په دې کال کې د وچکالۍ له امله پټیو ته د اوبو رسولو محدودیت شتون درلوده له همدې امله د هغې ګاونډیان په خپله اقتصادي ستونزو سره مخ شول او مریم سره یې هم مرسته نشوه کولای. اوسمهال هغه په فقر کې ژوند کوي او د مرستو غوښتونکې ده ترڅو د مرستو په ترلاسه کولو هغه او د هغې ماشومان ژوندي پاتې شي.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندی ووسي.


مریم د کوم عاید پرته د ډېریو داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو په شان په شدیده توګه مرستو ته په تمه ده ترڅو وکولای شي له خپلو ماشومانو څخه ملاتړ وکړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada | MOFAT | NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS | ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION | Co-funded by the European Union | په همغږي سره